مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ لومړۍ | د ۲۰۲۰ د جون ۲۱مه | ۵۵۳مه گڼه

پوهنتون

۴ مخ

## بیان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

د دې موسسې اداره وايي، د محصلينو د ړتياوو لوړولو لپاره يې د نظري زده کړو تر څنگ د عملي زده کړو زمينه هم برابره کړې ده.




# حکومت د بیان د ازادۍ پر وړاندې؛

## افضلي: داسې ښکاري چې حکومت د بیان ازادۍ د محدودولو اراده لري



۳

## مالیې وزارت: غضنفر گروپ د مزارشريف گازي برېښنا په پروژه ۸۹ میلیون ډالره پانگونه کوي



مالیې وزارت وايي، د غضنفر گروپ شرکت د مزارشريف گازي برېښنا په پروژه ۸۹ میلیون ډالره پانگونه کوي.

د دغه وزارت وياند شمرور مسجدی وايي، د غضنفر گروپ شرکت له نړيوالې مالي موسسې سره، چې د نړيوال بانک له زېر مجموعې څخه ده، د ۶۰ میلیون ډالرو په ارزښت پور اخيستو هوکړه ليک تېره ورځ لاسليک کړ. نوموړی وايي، چې د پور اخيستنې هوکړه ليک لاسليکولو موخه د خپلواکې انرژۍ پروژې په بنه د مزارشريف په گازي برېښنا د ۸۹ میلیونه امریکايي ډالرو پانگونه ده. له دې ډلې پاتې ۲۹ میلیونه امریکايي ډالره به له شريکانو سره په گډه د غضنفر گروپ ورکوي. ياده پروژه د عامه او خصوصي مشارکت له لارې پلې کېږي او مالیې وزارت يې د تضمين کوونکي رول په غاړه لري.
د يادې پروژې تولیز ظرفيت ۵۹ میگاواټه ده، چې په هېواد کې د ۳۰ سلنه برېښنا توليد زياتېدو سبب گرځي او توليد شوې انرژي به په بلخ، کابل او ننگرهار ولايتونو کې ووېشل شي.

افغانستان پارلمان لري؟

۲ مخ

افغان سوله؛
کوم ارزښتونه د دفاع وړ دي؟

۲ مخ

افغانستان ته د پیسو نړیوال صندوق پور گټې او زیانونه

۳ مخ

## برېښنا شرکت: له هېچا سره هوکړه نه لرو، ټولې کورنۍ دې پر خپل وخت د برېښنا پیسې تحویل کړي

برېښنا شرکت وايي چې تر اوسه د برېښنا د لگښتونو د معاف کولو په برخه کې کوم هوکړه له کرونا ويروس سره د مبارزې له کمېټې سره نه دی لاسليک شوې او ټولې کورنۍ اړ دي چې د ورې او غوېي مياشتو د کړو لگښتونو پېسې تحويل کړي. دا په داسې حال کې ده چې د روانې مياشتې په اتمه د کابل والي محمد يعقوب حيدري اعلان وکړ چې د کابل ښار د ۳۵۰ زره کورنيو د اوبو او برېښنا لگښت چې له زرو افغانيو څخه کم وي، له کرونا سره د مبارزې کمېټې له لوري ورکول کيږي.
هغه زياته کړه چې په کابل کې د کرنتين په وضع کولو سره ډېرو کورنيو خپل کار وبار له لاسه ورکړی او نه شي کولای چې د اوبو او برېښنا لگښتونه تحويل کړي، نو ځکه دوی دغه پرېکړه کړې ده. خو د يوې مياشتې له تېرېدو وروسته د برېښنا شرکت وايي چې تر اوسه يې له کرونا سره د مبارزې له کمېټې څخه داسې کوم سند نه دی ترلاسه کړی چې له مخې يې د ۳۵۰ زره کورنيو د برېښنا لگښت دوی تحويلوي. د برېښنا رياست وياند وحيدالله توحيدي ويلي چې په دغه برخه کې له کرونا ويروس سره د مبارزې کمېټې له دوی سره کوم تړون نه دی لاسليک کړی.
نوموړي د يوې پوښتنې په ځواب کې ويلي: ((د هغو کورنيو د برېښنا لگښت چې د ورې او غوېي په مياشت کې له زرو افغانيو څخه کم راغلی وي او خپل بېلونه يې تحويل کړي وي، دغه پېسې د راتلونکو مياشتو لپاره محاسبه کيږي.»
خو دی وايي، تر هغه چې يادې پيسې د برېښنا شرکت بانکی حساب ته وي رسېدلې ټولې کورنۍ اړ دي چې په خپل وخت سره د برېښنا د لگښتونو پېسې تحويل کړي.

## په افغانستان کې د ناټو ريخوالي زياتوالي سياسي ستونزې رامنځته کولی شي



۵ مخ

## وزارت صلح: زمان آغاز مذاکرات صلح همزمان با تکمیل تبادله زندانیان مشخص می‌شود



وزارت دولت در امور صلح، تعیین زمان و مکان گفت‌وگوهای میان افغانان را با تکمیل شدن روند تبادله زندانیان میان حکومت و طالبان، هم‌زمان می‌داند.
تبادلۀ پنج‌هزار زندانی طالبان از سوی حکومت و یک‌هزار زندانی حکومت از سوی طالبان، پیش‌شرطی‌ست که طالبان همواره بر عملی‌شدن آن، پیش از آغاز گفت‌وگوهای میان‌افغانان، تأکید کرده‌اند. ناجیه انوری، سخن‌گوی وزارت دولت در امور صلح گفت: «هم‌زمان با تکمیل تبادله زندانیان و اسیران دوطرف و توقف خشونت‌ها، هماهنگی‌ها به خاطر مکان و زمان آغاز مذاکرات تکمیل می‌شود.» این در حالی است که رئیس‌جمهور غنی هفته پیش گفت که زمان و مکان گفت‌وگوهای میان افغانان در هفته‌یی که آغاز شده‌است، روشن خواهد شد. اما، جلال الدین شینواری، لوی څارنوال دورۀ طالبان بدین باور است که گفت‌وگوهای میان افغانان، به‌علت بروز بی اعتمادی‌ها میان حکومت و طالبان، به تأخیر افتاده‌است: «بین دولت اسلامی افغانستان و بین امارت اسلامی افغانستان، کدام مشکل بی‌اعتمادی‌یی که به‌میان آمده‌است، منجر به این شد که مذاکرات بین‌الافغانی هفتۀ جاری آغاز نگردد.»
در حالی که کاهش خشونت‌ها، پیش زمینه‌یی برای آغاز این گفت‌وگوها دانسته می‌شود، اما تنها در بیست و چهارساعت اخیر، از کشته شدن بیش از بیست جنگجوی طالبان و پنج تن از نیروهای امنیتی در چند بخش کشور، به‌شمول دو افسر اردوی ملی در هلمند، گزارش داده شده‌است.
این‌همه، چگونه‌گی روند صلح و به‌درازا کشیده شدن این روند را، با پُرسش‌هایی روبه‌رو ساخته است.

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملگری کړئ

Aksos
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریځ

# افغانستان پارلمان لري؟

افغانستان په سخت حالت کې دی او روان بدلونونه به زموږ په برخلیک کې خورا مهم رول ولري. په دغو بدلونونو کې د دولت د مقننه ځواک په توګه د پارلمان رول بیخي مهم دی. د دې تر څنګ د حکومت کړنې او پرې د مقننه ځواک څار او ډېرې نورې چارې دي چې د پارلمان رول پکې خورا مهم دی او د خلکو او هېواد په ګټه ډېر څه کولی شي.

خو ایا زموږ پارلمان خپله دنده تر سره کوي؟

زموږ ملي شورا دوې برخې لري، زه دلته پر مشرانو جرګې ډېرې خبرې نه کوم، یوازې همدومره وایم چې مشرانو جرګه د ولسمشر د یوه سکرتریت په شان عمل کوي او هر قانوني او ناقانونه کار چې ولسمشر یې غوښتنه وکړي، دوی یې کوي. د دې تر ګردو ستر لامل دا دی چې ولسمشر په ناقانونه ډول انتصابي سناتوران معرفي کړي او څوک چې د ولسمشر د خوښې خلاف کار وکړي، نو له سناتورۍ یې په ناقانونه ډول لرې کوي. دغه راز د ولسمشر او د مشرانو جرګې د مشر تر منځ د جرګې پر ریاست معامله او د مسلمیار لپاره د مخالفینو ځپل خو هغه څه دي چې خپله ولسمشر پرې اقرار کړی دی.

ولسي جرګه هم له بده مرغه له پیله تر اوسه ډېره کمزورې ده. نه یوازې دا چې کوم مهم او ګټور کار یې نه دی کړی، بلکې داسې چلند کوي لکه افغانستان چې بیخي ولسي جرګه ونه لري. په حکومت کې ناقانونه کړنې، فساد، د ادارو تخریب، د ادارو ګډوډ او جلا کول، په قوانینو ملنډې، د شخصي ګټو لپاره د واک کارول او نورې ګډوډۍ بیخي چیغې وهي، خو ولسي جرګه پرې چوپه خوله ده. د قوانینو د ښکاره حکمونو خلاف ولسمشر د ملي یووالي په حکومت کې تر نیمايي ډېر وزیران تر پایه سرپرستان وساتل، خو ولسي جرګې هېڅ جدي غبرګون ونه ښود. اوس هم ولسمشر کار پیل کړی، ډېر وخت تېرېږي، لا هم حکومت سرپرستان اداره کوي او ولسي جرګه هم پر حکومت داسې فشار نه راوړي چې کاندید وزیران ور معرفي کړي، څو د باور رایه واخلي. اوس چې ولسمشر لګیا دی، ځینې سرپرستان او کاندید وزیران ټاکي، ښکاري چې اصلاً د ولسي جرګې په اړه فکر نه کوي. نوې ګومارنې دردوونکې دي، څوک پر داسې کسانو ویشي چې یا خو د غلا او فساد مخینه لري او آن ځینې یې په څارنوالۍ کې اوس هم دوسیې لري او یا بیا داسې دي چې نه زموږ پر ملي او رسمي ژبو پوهېږي او نه هم زموږ له فرهنګ، ارزښتونو، واقعیتونو او جغرافیې سره اشنايي لري. اوس د دې وېره هم شته چې همدا ډول خلک به ولسي جرګې ته ورځي او هلته به وکیلان د فساد یا بې پروايۍ او سیاسي لاملونو له امله همدغو کسانو ته مثبتې رایې ورکوي او باور به پرې کوي.

د دې تر څنګ د سولې او جګړې په ګډون د افغانستان په مهمو او لویو مسایلو کې د ولسي جرګې نه غږ شته او نه هم دریځ. ولسي جرګه داسې ده لکه چې دا مسایل هېڅ په دوی پورې نه اړوندېږي او یا هم وکیلان پر خپلو سوداګریو او نورو معاملو بوخت وي. له بده مرغه د دې ناکاره او بې غږه او بې دریځه ولسي جرګې او په ټوله کې ناکاره ملي شورا زیان افغانستان او افغانانو ته اوړي او د دې شورا غړي فکر کوي چې دوی له دغو زیانونو خوندي دي، خو دوی هېروي چې هېڅوک له دې زیان څخه خوندي نه دي.

# افغان سوله؛

## کوم ارزښتونه د دفاع وړ دي؟

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

وروسته له یوې اوږدې او کرغېړنې جګړې امریکایانو ومنله چې په جګړه کې له بُن‌بست سره مخ شوي، روانه جګړه یې د تاریخ تر ټولو اوږده جګړه ده او دوی غواړي چې له طالبانو سره د مذاکراتو له لارې دې بایللې جګړې او تاریخي شرم ته سیاسي حل پیدا کړي.

مګر د امریکا او طالبانو تر منځ د مذاکراتو پر مهال د بېلابېلو خنډونو او فشارونو تر څنګ یو له بنسټیزو او تر ټولو ډېر پام اړوونکو بحثونو څخه چې تل د یوه بدلون او لاسته راوړنې په توګه ورڅخه یادونه او پر ساتلو یې بې کچې ټینګار شوی، هغه د غربي موډلونو، مزاجونو او ایډیالونو پر بنسټ د ښځو حقونو، بشر حقونو، فردي ازادیو او د قومي ـ مذهبي لږکیو چې د امریکایي زر او زور په ملاتړ د رامنځ ته شویو هڅو خوندیتابه موضوع ده، د جمهوریت او ډیموکراسۍ په نوم تر یوه پراخ چتر لاندې مطرح کېږي.

دغه بحث هغه مهال جدي بڼه خپلوي کله چې د ارزښتونو په نوم د یوه ملت شموله چوکاټ په ترځ کې مطرح او بیا د سولې غونډې په یوه مهمه ملي مسئله کې چې د افغانستان د ژغورنې اهمیت ورپورې تړلی، د سرو کرښو او د نه معاملې وړ اصل په توګه ور څخه تل د یوه طرف له خوا چې افغان حکومت دی، یادونه کېږي.

ارزښتونه څه ته وایي؟

د ټولنپېژندنې له نظره ارزښتونه هغه ټولیز باورونه دي چې بېلابېلې انساني ډلې، افراد او جوړښتونه یې هغه څه چې د دوی په ګټه او یا ښه وي، لري. یا په بله مانا، ارزښتونه د یوه ملت، ډلې او قبیلې داسې کردارونو ته وایي چې دوی ته مهم وي، د دوی تر منځ ګډ وي او دوی د هغه لپاره د یوه آرمان په توګه کار کوي.

په همدې بنسټ د یوې ټولنې او ملت ګډ ارزښتونه معمولاً د دوی د ارمانونو استازیتوب کوي او ټولنې معمولاً د هغه پر خلاف څه نه منې، د دفاع لپاره یې قرباني ورکوي او دا هرڅه د یوه ملت د ملي هویت او ملي امنیت په بحث کې د سرو کرښو ځایګی لري.

البر کرامې د فرهنګ او ټولنپېژندنې په نوم خپل مهم کتاب کې د ارزښتونو په اړه لیکي: «په پارځوني ټولنپېژندنه کې د ټولنیز نظم وجود په عامه او ګډو ارزښتونو پورې تړلی دی، چې په ټوله مانا مشروع او ژمن بلل کېږي، داسې چې په ټوله کې د یوې ټولنې ټول کردارونه د هغو په حساب تلل کېږي. د بېلګې په توګه، یو وخت د نازي جرمنیانو په نزد اریایي- نژادي ملتپالنه تر ټولو مهم ارزښت و او د خپل دغه حق او ارزښت په دفاع یې نیمه اروپا د مرګ خولې ته ورکړه. د هندو براعظم لرغوني ارزښتونه په ۲۱مه پېړۍ کې د ملتپاله هندو ګوند بي جې پي د کورني او بهرني سیاست پر اصلي کردار اوښتي. اخوندي ایران د پاړسیزم او اثنیه اشعریه شیعه ایزم د دفاع او خپراوي داسې نوم لري چې د امریکا او نیمې نړۍ بې رحمانه او ملا ماتوونکو اقتصادي، سیاسي او نظامي بندیزونو، ګواښونو او دښمنۍ ته یې په یوازې سر ځان ټینګ کړی. دې ته ورته ترکان، مصریان، چینایان، انګریزان او حتی د چنګیز خان ورکه او بدنامه ورثه مغولیان.»

ځکه دورکیم او انتوني هم د قضاوتونو او ګډو احساساتو په بحث کې ارزښتونه د یوه ملت د تعریف تر کچې د مزل داسې بحث ګڼلی، چې هېڅکله له بهر څخه د بې پیخرو استخباراتي پیسو، یرغل او د هغوی د معنوي او مادي شتمنیو د تالان او شړېدو له لارې نشي عملي کېدای. دا ځکه چې د یوه ملت ارزښتونه د ملت او هویت د تعریف او دوام اصلي بنسټونه دي.

زموږ ملي- افغاني ارزښتونه او بهرني تخریبونه

دې ټولو علمي او منل شویو نړیوالو بحثونو ته په کتو موجود واقعیت او حقیقت دا دی، چې د جمهوریت په نوم، محور او ننګ رواني هڅې په بشپړه مانا پردی، د سولې ضد او په لویه کې د افغانستان له تلپاتې امن، سالمیت، مصلحت او ټیکاو سره په ټکر او خلاف کې دي.

په همدې بنسټ له ثابتو، تعریف شویو او منل شویو ملي، دیني او ټولنیزو ارزښتونو دفاع د هر افغان ملي وجیبه ده، افغانانو تل د خپلو ارزښتونو راج د خپلو سرونو په نذرانه کولو سره ساتلی، د هېواد له خپلواکۍ او آزادۍ سره یې د یوې معشوقې په څېر مینه او سرښندنه کړې، د خپل دین د عزمت او د خپلې عقیدې د سلامت په پار یې هر غلیم له خپلو احمقانه ارمانونه سره ګور ته لېږلی، د نظام ساتونکو ته یې متولیان او په دفاع یې مرګ شهادت او غزا ګڼلې، عفت او عزت د افغان ملت د غورځنګونو او شهامتونو یو بل ارزښت و چې افغانان یې اړ کړل څو د عبدالله خان اڅکزي او عنایت الله خان لوګري په څېر ملتپاله غازیان د انګریزانو خلاف ملي پاڅون اعلان کړي او دا چاره دومره وغځېده چې افغان ملت فرنګ ته بیا تاریخي ماتې ورکړي او د لومړي ځل لپاره انګریزان په یوه داسې امپراطورۍ کې چې لمر پکې نه ډوبېده، د لومړي ځل لپاره د ماتې خوند وڅکي.

دا هغه ارزښتونه، سرې کرښې او د نه معاملې وړ بنسټونه دي چې هېڅوک، ډله او مقام پرې د معاملې حق، جرئت او وس نشي لرلای او چا چې لکه یعقوب خان، شاه شجاع، سقاو او کارمل د معاملې جرئت وکړ، نوم به یې په تاریخ کې د غلام ابن غلام په نوم یاد شي.

ولې اوسنی د جمهوریت په نوم د حاکمو آمریتونو په بحث کې چې د حکومت له اړخه د افغان ملي او ولسي دریځ او ارزښت په توګه مطرح کېږي، په دې برخه کې وضاحت، حقیقت او واقعیت دا دی چې نه یوازې دا یو هم په هغه بڼه او قالب کې چې وړاندې کېږي او په تیرو ۲۰ کالو کې د امریکایي وحشت او زر په زور پړسیدلي او غټ شوي وو، نه یوازې زموږ د ملي، ولسي، تاریخي او دیني ارزښتونو برخه نه دي؛ بلکې په لویه کې د اشغالګرو له لوري زموږ په ثبات، تاریخي او ملي ویاړونو دښمنانه ګذار او د دې عظیم ملت د اسلامي او افغاني اصیلو ارزښتونو د تحریف، تخریب او ماتولو پردۍ او بهرنۍ هڅه ده.

د بېلګې په توګه، د جمهوریت مانا خپلواکي، د ملي قدرت وېش، د نظام په بنسټیزو قواوو، د قدرت له انحصاره او راټولیدو مخنیوی، د قانون حاکمیت او په ټوله کې د یوه ملت د رنګ، بوی او طبیعي جوړښت په آرونو د بیا جوړونې داسې څرک دی چې د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې ادارې او روایاتو د زمانې، وخت او ټولنې د حالاتو او اړتیاوو له مخې جوړېږي او ګټه یې تر هغه ده چې اړتیاوې کمې او له حالاتو سره کار وکړي. که له حالاتو سره سم مزل ونشي کولای، نو زوال پرې راځي، له منځه ځي او دا د یوه ملت خوښه ده چې ځان ته څه ټاکي او په کومه لار ځي.

ولې موږ په تېر ۲۰ کلن مزل کې ولیدل چې نه یوازې د یرغل په مټ او د اشغال د ګټو ساتونکي جمهوریت زموږ ولس ته خوښۍ را نه وړې؛ بلکې تر همدا ننه حتی همدا جمهوریت زموږ د وینو، مرګونو د درېدو او د یوه ملت د یووالي او د اشغال د پای په لار کې خنډ دی، هغه څه چې د جمهوریت کرایي کارکوونکي او بهرني چلوونکي یې وایي، ټوله پایله یې د اصیلو ملي ارزښتونو او درنښتونو سپکاوی، پروژه‌یي تخریبونه، د جګړې او بلواکۍ دوام او په ټوله کې د یوه ملت داسې تباهي ده چې نږدې ده موږ خپل تاریخ له لاسه ورکړو او دا عظیم ملت مات شي.

ځکه د سولې مخالفین اکثراً د پښتنو د اکثریتي وجود منکرین او د فیدرالېزم پلویان د اوسني امریکایي- ډالري جمهوریت سرسخت مدافعان دي. بل لور ته همدغه د پردو ارزښتونو پلویانو پرون د ملي هویت پر خلاف سپینه کودتاه وکړه، دوی د افغان هویت له یوې غټې برخې چې افغانیت دی په جار سره مخالف کاوه، دوی د ملي اقتدار ټول بنسټونه ویران کړل، د افغانانو دودیزې ملي جرګې یې قبیله‌یي دود وبللې، دوی داسې مهال د اساسي قانون او جمهوریت بحث کوي چې ملي سرود قومي ګڼي، ملي منل شوي مصطلحات نه مني او پر خلاف یې پردي ویوکي کاروي، دوی د افغانستان سیاسي جغرافیه نګوي، د ډیورنډ په څېر ملي مسئلې ملي نه بولي؛ بلکې دا دریځونه قومي ګڼي، دوی ملي ارزښتونه، ولسي ایډیالونه، د افغان ملت د وحدت بنسټونه ټول قومي او له دې څخه د خلاصون بحث په یوه وروستي بحث کې د افغانستان ماقبل تاریخ ته ګرځول او یا جغرافیایي تجزیې ګڼي.

په همدې بنسټ دا خلک د دې کاذبو عناوینو او له سوچه افغاني ارزښتونو څخه د پردیو او له بهر څه د را واردشویو موډلونو او غربي مزاجونو په دفاع غواړي چې له سولې غچ واخلي، زموږ تاریخ او ملي ویاړونه د سقاوي او ستمي نیتونو په بنسټ کمزوري او د جګړې د دوام له لارې د یو لوی اکثریت د ماتولو، وژلو او تباهۍ لوبه وکړي؛ ځکه له دغو منل شویو ملي، اسلامي او تاریخي ارزښتونو څخه باغیان، منکران او پردي پالان کله هم د دغو ارزښتونو غمچاري، استازي او ملاتړي نه شي کېدای او نه هغه څه چې د جمهوریت او جمهوریت محوره باورونو په نوم وړاندې کوي، افغاني دي.

دوی وایي چې هرڅه غربي بڼه ولري هغه ارزښت دی. دوی وایي چې ۳۵ میلیونه ملت دې له اور، جګړې، بارودو او بې وزلۍ مړ وي، خو چې د دوی مرفه او په امریکایي ډالرو سینګار غربي ژوند د دې ډیموکراسۍ په انډوخر کې د ارزښتونو او سرو کرښو په نوم وساتل شي. دوی د افغاني ښځې د بې ستره کولو، بربنډولو او له خپل فرهنګ او ارزښتونو څخه پردي کولو ته کار وایي. حال دا چې د افغاني ښځې ایډیال د میوندونو ملاله ده، چا چې پر پردو پیسو، رنګینو او عسکرو ځان نه ساته؛ بلکې د اشغال پر خلاف یې د وطن د آزادۍ، په دین د ننګ او د خپلو اصیلو وطني، ملي او اسلامي ارزښتونو د راج په پار یې د ایوب د لښکرو بیرغ اوچت کړ. دوی د ښځو او نارینه‌وو د برابرۍ لپاره د بشر حقونو نومې نړیوالې- اروپایي اعلامیې څخه خبرې کوي، هغه اعلامیه، جمهوریت او بشر حقونه چې د نړیوال عدالت محکمه چې د دوی په شتون کې پر افغان وطن د امریکایي عسکرو د جنایتونو او وحشتونو په کولو له سره پټه خوله ده او حتی نه شي کولای د دغو جنایتونو د تر سره کوونکي او جنایتکار طرف (امریکا) پر خلاف ودرېږي.

له دې ټولو سربېره، دا ډله خلک دومره محدود، اقلیت او د افغان وطن له حال او مزاجه په دې کچه پردي دي چې تل په بهرنیو راشنونو چلېدلي، په بهرنیو پاسپورټونو راغلي او په دومره پراخه جغرافیه او لوی وطن کې دوی یوازې د کابل په وزیر اکبر خان مېنه، ششدرک او کارته سه پورې محدود او اوسېږي.

پایله

د افغان ملت له نظره د بین الافغاني مذاکراتو پر مهال له هر هغه بحث، ایډیال او ارزښت څخه دفاع د ملي بنسټونو په توګه معقول او موږ ټولو ته سره کرښه ده چې افغاني وي، د ټولو پرګنو ګډ وي، تاریخي، ملي او دیني مخینه ولري، افغانانو یې په دفاع غزا او سرښندنه کړې وي او په ټوله کې د افغان ملت د جوړښت، پایښت او دوام حساسیتونه او حیثیتونه ورپورې تړلي وي.

افغان ملت د دغه ډول علیا ارزښتونو، درنښتو، ګټو او ملي دریځونو پر دفاع ولاړ دی او له هر معامله‌ګر سره به یې په ننګ هغه چلند وکړي کوم چې زموږ تاریخ د دغه ډول ویاړمندو ملي غورځنګونو یو اوږد تاریخ لري.

مګر په مقابل کې به هېڅکله د کاذبو لاسته راوړنو، پروژه‌یي او خارجي سلیقوي درنښتونو او د ارزښت په نوم د افغان اصیل، ملي او اسلامي ارزښتونو پر خلاف هغه څه ونه منو چې زموږ نه دي، پردي دي، زموږ له تاریخ، کلتور او مزاجونو سره اړخ نه لګوي او اصلي موخه تري د سولې د روانو هڅو، د افغانستان لپاره د ثبات د پرېکړو او په ټوله کې د یوه پر آمن، متحد، یو بل زغمونکي او له پردیو استخباراتي جالونو څخه د خوندي افغانستان تخریب ده.

# افغانستان ته د پیسو نړیوال صندوق پور ګټې او زیانونه

◀ لیکنه: کامران ملک/بي بي سي- پښتو

افغان حکومت د پیسو له نړیوال صندوق IMF څخه له کرونا ویروس سره د مبارزې لپاره په تېره اپرېل میاشت کې د ۲۲۰ میلیون ډالرو پور وغوښت او دغه صندوق منظور کړ.

د پیسو نړیوال صندوق هغو هېوادونو ته پور ورکوي چې له اقتصادي رکود او تازه له ستونزو سره مخ شوي وي، چې د ستونزو په لومړیو کې پور واخلي او هېواد له ستونزو پرې وباسي، یا اقتصادي ستونزو خورا کمزورې کړې وي، مګر د پور په تر لاسه کولو یې د رغولو چانس وي او یا چې په اقتصادي ستونزو کې سخت ایسار وي او د حل لپاره دوامداره قرض ته اړتیا لري.

د پیسو نړیوال صندوق وایي، افغانستان باید دا قرضه په لسو کلونو کې دغه صندوق ته ور خلاصه کړي، چې لومړۍ تادیه یې باید تر پنځه نیم کلونو پورې بشپړه شي.

دا خبره هم باید واضحه وي چې د پیسو نړیوال صندوق پورونه مشروط دي او دا صندوق مخکې له دې چې هر هېواد ته پور ورکړي، خپل شرایط ورته وړاندې کوي.

کله چې اړوند هېواد دغه شرایط د یوه لیکلي کاغذ له لارې منظور کړل، بیا د پیسو نړیوال صندوق د دوی پور منظوروي.

د پیسو نړیوال صندوق په خبره، اوسنی پور چې افغانستان ته ورکول کېږي، د عاجلو اړتیاوو پوره کولو او هغو کورنیو ته د ټولنیزو مرستو رسولو لپاره دی چې له ستونزو سره مخ کېږي.

د دې تر څنګ د دې پور ونډه به د سلاکار په توګه وي چې د نوې اقتصادي او سیاسي پالیسۍ په جوړولو کې خورا مهم رول لوبوي. یانې پور اخیستونکی هېواد به د پیسو نړیوال صندوق په مشوره خپله اقتصادي او سیاسي پالیسي جوړوي، چې د دوی قرض له (روا ګټې) سره بېرته ورکړي.

د پیسو نړیوال صندوق تر ۱۸۹ زیات غړي هېوادونه لري، خو د امریکا متحده ایالتونه او متحدین یې پکې د رایو اکثریت لري، ځکه د دوی ونډه د نورو په نسبت زیاته ده، نو که کوم هېواد پور اخلي باید د امریکا موخې هم په پام کې ونیسي.

له دغه صندوق د پور اخیستلو ګټې

د پیسو نړیوال صندوق پور په داسې مهال اخیستل کېږي چې د کرونا له امله په افغانستان کې ډېر کاروبارونه په ټپه ولاړ یا کمزوري شوي دي. لکه څرنګه مو چې پورته یادونه وکړه، د پیسو نړیوال صندوق په خبره، دغه ۲۲۰ میلیونه ډالر پور به د افغانستان دولت د عاجلو اړتیاوو په پوره کولو او له اړمنو او ځپل شوو کورنیو سره د کرونا ویروس له بحرانه په وتلو کې مرسته وکړي.

د دې تر څنګ یاد پور مو د هېواد د تادیاتو د کسر هغه تشه ډکولی شي چې د اوسني ناورین له امله پیدا شوي.

پر دې سربېره، په لنډمهال کې د انفلاسیون کمېدل، د افغانۍ ارزښت لوړېدل او بهرنیو پانګوالو ته د پانګوالۍ فرصتونه چمتو کېدای شي.

د دې پور نیمګړتیاوې

د پیسو نړیوال صندوق پورونه که په لنډمهاله توګه د یو هېواد د تادیاتو د کسر تشه ډکولی شي، خو په اوږدمهال کې د یو هېواد اقتصادي او سیاسي مشکلات هم زیاتولی شي.د دې پور اوږدمهالي زیانونه ببلابېل دي، چې ځینو ته یې لنډه کتنه کوو:

پور

د پیسو نړیوال صندوق له پور سره په لنډمهال کې د افغانۍ ارزښت لوړېدلی شي.

لومړۍ ستونزه دا ده چې دا صندوق د ګټې یا سود زیاته شرعه اخلي او په ټاکل شوې موده کې د پور نه ورخلاصولو له امله کېدای شي افغانستان جریمه نشي، خو د بیا ځل پور غوښتلو پر مهال یې اعتبار تر پوښتنې لاندې را تلای شي. همدا راز په راتلونکي کې د دې امکان شته چې د پیسو نړیوال صندوق پور د سود په لوړه سلنه ور کړي او یا هم زیات شرایط او قیودات ورته وټاکي. اوسمهال اکثره غریب هېوادونه چې له دغه صندوقه یې پور اخیستی، په همدې حالت کې دي.

دویمه ستونزه دا ده چې د پیسو نړیوالو صندوق ان د دولتي ادارو پر شخصي کولو هم ټینګار کوي. په دې توګه ټولې ادارې د ملکي او بهرنیو پانګوالو لاسونو ته ورتللی شي. لا روښانه نه ده چې د افغانستان لپاره هم د دې پور په بدل کې دا ډول کوم شرط اېښودل شوی او که نه.

درېیمه ستونزه دا ده چې دا صندوق د پور په بدل کې ډېری وخت هڅه کوي چې د پوروړي هېواد په مالي یا fiscal پالیسۍ کې بدلونونه راولي. صندوق له همدې لارې د پیسو پر عرضه کولو کنټرول تر لاسه کولی شي.

څلورمه ستونزه یو څه سیاسي اړخ هم لري او هغه دا چې ځینې کارپوهان داسې استدلال کوي چې د پیسو نړیوال صندوق د نړۍ اتو شتمنو یا صنعتي هېوادونو (فرانسه، جرمني، ایټالیا، انګلستان، کاناډا، روسیه، جاپان او امریکا) د لرلید او ګټو لپاره کار کوي.

کارپوهان استدلال کوي چې دغه تعدیلات او کړنلارې هغو پوروړو هېوادونو ته زیان رسوي چې دا شتمن هېوادونه یې په چارو کې په بېلابېلو دلایلو لاسوهنه غواړي.

د نورو هېوادونو تجربې څه وایي؟

ځینې هغه هېوادونه چې د پیسو نړیوال صندوق پوروړي دي، اوسمهال له اقتصادي بحران سره مخ دي چې پاکستان یې یوه غوره بېلګه ده.

دغه هېواد اوسمهال د پیسو له نړیوال صندوق څخه ۱,۴ میلیارده ډالر پور اخیستی چې دا حالت په پاکستان کې د پانګونې لپاره ډېر زیانمن دی. دا ځکه چې پانګوال په داسې هېوادونو کې پانګونه نه کوي، د هېواد اقتصادي وده کمېږي، د پیسو توازن Balance of Payment یې اغېزمنېږي او کمښت کوي چې د هېواد په کرنسي منفي اغېز کوي، پولي واحد یا کرنسي خپل ارزښت له لاسه ورکوي. انفلاسیون (د توکو بیې) لوړېږي او ګراني رامنځ ته کېږي.

د پاکستان اپوټه یا برعکس هغه هېوادونه چې د پیسو له نړیوال صندوق څخه یې پور نه دی اخیستی او یا یې د دوی له پور ځان ژر خلاص کړی (لکه ترکیه، مالیزیا) د ښې اقتصادي ودې شاهدان دي؛ ځکه چې د دې هېوادونو زیاته پاملرنه کورنۍ پانګوالۍ ته ده.

د بحث پایله

افغانستان ته اوسنی پور داسې مهال دی چې ملګري ملتونه وایي، له اداري فساد سره د افغان حکومت مبارزه پخه شوې ده. په ټوله کې باید ووایو چې افغانستان یو له هغو هېوادونو دی چې په لوړه کچه طبعي زېرمې او حاصل خیزه ځمکې لري. که افغانستان له خپلو داخلي سرچینو سمه ګټه واخلي او داسې تګلارې خپلې کړي چې له لارې یې ملکي پانګوال وهڅېږي څو په هېواد کې پانګونه وکړي، نو افغانستان به یو پر ځان بسیا هېواد شي او د هېڅ هیواد یا نړیوالې ادارې پور ته به اړتیا ونه لري. دا ډول پور به هغه مهال د افغانستان په ګټه وای چې په هېواد کې سیاسي ثبات، عدالت، شفافیت او امنیت وای.

اوس د افغانستان د دولت، پارلمان او اړوندو ادارو مسوولیت دا دی چې د دې پور ټول اړخونه وڅېړي، ګټې او زیانونه یې و ارزوي، ور سره پر تړلو شرایطو غور وکړي او بیا یې په اړه پرېکړه وکړي چې دا پور د افغانستان په ګټه دی او که نه.

# حکومت د بیان د ازادۍ پر وړاندې؛

## افضلي: داسې ښکاري چې حکومت د بیان ازادۍ د محدودولو اراده لري



افغان حکومت د رسنیو په اړه د خپلو طرحو او پالیسیو په دوام، تازه پرېکړه کړې چې د ټولنیزو رسنیو په قانون کې تعدیل راولي. رسنۍ او د بشري حقونو مدافع بنسټونه وایي چې دا د بیان پر ازادۍ د محدودیت په مانا ده او حکومت باید له تعدیلاتو لاس پر سر شي. د بشري حقونو خپلواک کمېسیون، د خبریالانو د مصونیت کمېټې او د افغانستان پر شفافیت د څار بنسټ پر دې مسئله غبرګون ښودلی او د حکومت کار یې د اندېښنې وړ بللی دی. بلخوا حکومت بیا وایي چې دوی د رسنیو له مسوولینو سره په مشوره دغه قانون تعدیلوي او په خپلسرې توګه به هېڅ اقدام ونه کړي.

د ولسمشر غني د حکومت د لومړۍ دورې له پیل سره سم هغه ګڼې ژمنې وکړې او د رسنیو، د معلوماتو شریکولو او بیان ازادۍ په برخه کې یې د اسانتیاوو او پرمختګونو پر طرحو د کار روانولو خبرونه ورکړل، خو د حکومت له پیله تر دې دمه څو څو ځله د رسنیو مسوولینو او خبریالانو د خپل مصونیت، قانون د عملي کولو او د بیان ازادۍ ته د درناوي په هکله له حکومت غوښتنې کړې چې نه دې عملي شوې. اوس تازه افغان حکومت وایي چې د ټولنیزو رسنیو په قانون کې به تعدیل راولي او دې مسئلې ګڼ غبرګونونه پارولي دي.

حکومت وایي چې خبریال ان پولیس، څارنوال، امنیتي ارګان او نورو ته د خبر سرچینه د با صلاحیته محکمې له حکم پرته باید واضح کړي، د رسنیو د تخطیو دوسیې به د محاکمو پر ځای د رسنیو پر تخطیو د څار کمېسیون ته ځي او همدا راز پر رسنیو به یې د بهرنیو خپرونو او اړوندو مطالبو پر خپرېدو سانسور او محدودیتونه وضع کېږي.

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وایي د حکومت دغه ډول کړنې د بیان ازادي زیانمنوي او د افغانان ستر بشري حق ترې اخلي. د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وایي: ((حکومت د رسنیو په قانون کې د تعدیل خبره کوي چې ځینې برخې یې د بیان ازادي زیانمنوي او حکومت باید له ورته اقداماتو ډډه وکړي)).

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون زیاتوي، د بیان ازادي د بشریت ستره لاس ته راوړنه ده او په افغانستان کې د دغې برخې لپاره ډېر کار شوی چې حکومت یې دې په ورته اقداماتو نه زیانمنوي. د سرچینې په خبره: ((د بیان ازادي د بشر په اساسي حقونو کې راځي. همدا راز دا زموږ د سیاسي-حقوقي نظام ستره لاس ته راوړنه ده. کمېسیون په دې تړاو ژوره اندېښنه لري، خو په ورته وخت کې د حکومت له دې اقدام هرکلی کوي چې وایي، د قانون په اړه به د رسنیو له مسوولینو سره خبرې کوي. موږ به د دغه مهم اصل د دفاع لپاره خپلې هڅې جاري ساتو)).

د افغانستان پر شفافیت د څار بنسټ هم د رسنیو د قانون په تړاو د حکومت له اقداماتو اندېښمن دی او نیوکه ورباندې کوي. د دغه بنسټ رییس سید اکرام افضلي وایي، د قانون د تعدیل طرحه ښیي چې حکومت غواړي د هېواد مدني فضا او بیان ازادي محدوده کړي.

د نوموړي په خبره، د حکومت دغه ډول کړنې د جدي اندېښنې وړ دي او د قانون د تعدیل پر ځای دې د بیان له ازادۍ دفاع ته مټې و نغاړي. د افضلي په خبره: ((د رسنیو د قانون د تعدیل طرحه دا ښیي چې حکومت د بیان ازادۍ او مدني فعالیتونو د محدودولو اراده لري. په دې حساس وخت کې دې حکومت د محدودیت راوستلو پر ځای د بیان ازادۍ له ارزښتونو ددفاع په لټه کې شي)).

بلخوا حکومت بیا وایي چې دوی په دې تړاو د رسنیو له مسوولینو سره خبرې کوي. د ولسمشر د ویاند یوه مرستیال لطیف محمود ویلي چې حکومت د رسنیو له مسوولینو سره تر مشورې پرته هېڅ پرېکړه نه کوي. د ولسمشر سلاکار وحید عمر هم وایي چې دوی به د رسنیو له مسوولینو سره د دغې طرحې په تړاو خبرې کوي او هېڅ وخت حکومت هڅه نه ده کړې چې د بیان پر ازادۍ محدودیتونه وضع کړي.

# هوک: ایران دې له ځنډ پرته نړیوالو څارونکو ته له ټولو اټومي سیمو د څارنې اجازه ورکړي

د ایران لپاره د امریکا د متحدو ایالتونو ځانګړي استازي د هغه پرېکړه لیک هرکلی کړی، چې د جمعې په ورځ د ملګرو ملتونو له خوا تصویب شو.

دغه پرېکړه لیک چې د ملګرو ملتونو د اټومي انرژۍ نړیوالې ادارې د مدیره پلاوي له خوا تصویب شوی، له ایرانه غواړي چې دوو د اټومي وسلو د تولید دوو ساحو ته د لاسرسي اجازه ورکړي.

ملګري ملتونه وایي چې ښایي په دغو ساحو کې پخوا ډېر اټومي فعالیتونه شوي وي.

د ایران لپاره د امریکا د متحدو ایالتونو ځانګړي استازي براین هوک ویلي، د ملګرو ملتونو د اټومي انرژۍ نړیوالې ادارې د مدیره پلاوي پرېکړه لیک د پام وړ دی، چې د ایران د اټومي پروګرام او په دغه پروګرام کې د شفافیت د نشتوالي په اړه یې جدي اندېښنې ولاړې کړې دي.

د اټومي انرژۍ نړیوالې دا پرېکړه لیک له ۲۰۱۲ میلادي کال راهیسې د خپل ډول له مخې لومړی هغه دی، چې له ایرانه غواړي د اټومي انرژۍ له نړیوالې ادارې سره بشپړه همکاري وکړي او له ځنډ پرته د دې ادارې غوښتنې پرځای کړي.

په دغو غوښتنو کې په ایران کې دوو ساحو ته سم د لاسه لاسرسی هم شامل دی، چې واضح شي، ایا هلته د ۲۰۰۰ میلادي کلونو په لومړیو کې نااعلان شوي اټومي فعالیتونه شوي او کنه.

په ورته وخت کې ایران له څو میاشتو راهیسې دغو ساحو ته د لاسرسي مخه نیولې ده، چې دې مسئلې په ډیپلوماتیک ډګر کې کړکېچ ولاړ کړی دی.

براین هوک چې خبریالانو ته په یوه کنفرانس کې خبرې کولې، زیاته کړې چې د ایران د بهرنیو چارو وزیر محمد جواد ظریف تېره پنجشنبه ټویټونه کړي او ویلي یې دي، چې ایران هېڅ شی پټ کړي نه دي.

هوک ویلي، که دا خبره رښتیا وي، نو د اټومي انرژۍ نړیوالې ادارې څېړونکو ته د دغو ساحو په کتلو کې هم باید ستونزه نه وي.

د ملګرو ملتونو د اټومي انرژۍ نړیوالې ادارې تازه پرېکړه لیک چې فرانسې، جرمني او بریټانیا وړاندې کړی و او د امریکا متحدو ایالتونو یې ملاتړ کاوه، په ۲۵ موافقو رایو سره تصویب شو.

خو روسیې او چین د پرېکړه لیک په مخالفت کې رایه ورکړه او ۷ نورو هېوادونو اذربایجان، پاکستان، هندوستان، منګولیا، جنوبي افریقا، تایلنډ او نایجر سپینې یا ممتنع رایې وکارولې.

په ویانا کې د اټومي انرژۍ په نړیواله اداره کې د ایران سفیر کاظم غریب ابادي ویلي، تهران دغه پرېکړه لیک په کلکه ردوي او مناسبت ځواب به یې ورکړي. ایراني چارواکو ویلي، دا ډول پرېکړه لیک به د تهران او د ملګرو ملتونو د دې ادارې ترمنځ اړیکې زیانمنې کړي.

بلخوا په ویانا کې د ملګرو ملتونو لپاره د روسیې سفیر میخایل یولیانوف په یوه ټویټ کې ویلي، دا پرېکړه لیک به مثمر نه وي، خو په عین حال کې یې ټینګار کړی چې اړتیا ده تهران او د اټومي انرژۍ نړیواله اداره په خپلو کې دا ستونزه له ځنډ پرته حل کړي.

## د کتاب خبرې


# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

لیکوال: رابرټ کیوساکي
ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه

### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارايي

### لسم څپرکی




تر دې ماتې وروسته شتمن پلار راته وویل:((ته پیسو او بریالیتوب مغروره او کم‌عقل کړی یې. اوس چې له فقر او ماتې سره مخ شوی یې، نو کولای شې ښه زده کوونکی واوسې او له هر څه زده کړه وکړې.)) دی رښتیا وایي. کوم درسونه چې ما له هغو تجربو زده کړل، رښتیا هم خورا ارزښتمن وو. د نړۍ په کچه تجارت جوړول او بیا د هغه له لاسه ورکول ما ته د حقیقي ژوند درس راکړ او شتمن یې کړم. تر دې مهمه دا چې ما ته یې ازاد اوسېدل را زده کړل او په دې جریان کې ما ته ترټولو مهم درس د پیسو یا تجارت په اړه نه و، بلکې زما د خپل ځان په اړه و.

له جان څخه به یوه پوښتنه وکړم. که یې ځوابونه هغه څه وو چې زما په ذهن کې هم ګرځي، نو پوه به شئ چې زما مطلب څه دی.

رابرټ: جانه! دا ښکاره خبره ده، کوم کسان چې شبکه یي بازارموندنې ته ننوزي، ټول یو ډول بریالي نه وي. ستا په اند د بازارموندنې په شبکو کې د ناکامۍ تر ټولو لوی لامل څه دی؟

جان: بریا د خلکو له انده بېل تعریفونه لري. یو څه چې یوه کس ته مهم وي، بل ته هېڅ ارزښت نه لري. ځینې کسان د موجوده ګټې په زیاتولو خوښ وي او ځینې د کاروباري موقع په لټه دي چې د خپلې ګټې امکانات او د ژوند موخې تغییر کړي. ناکامي باید په عمده ډول تعریف شي. هغه خلک چې د لوی تجارت جوړولو غوښتنه لري، هغوی ته د میاشتې زر ډالره ګټل ناکامي ده؛ خو هغه چا ته چې غواړي په دغو پیسو د کور لګښت پوره کړي، د دومره پیسو ګټل بریالیتوب دی. یانې په تجارت کې زر ډالره ګټل ناکامي او تنخوا اخیستونکي کس ته بریا ده.

هغه خلک چې پر شبکه یي بازارموندنه ټینګار کوي، ورځ په ورځ ښه کېږي. اصلاً د دغه تجارت پرېښودل خلکو ته ناکامي ده.

د ښه پوهېدلو لپاره ښې پاملرنې او دقت ته اړتیا ده. که څوک له شرکت څخه استعفا وکړي او رسماً د تجارت د پرېښودو اعلان وکړي، نو په حقیقت کې یې تجارت پرېنښود، بلکې تسلیم شو.

د جان ځواب بلکل هغسې دی، لکه ما چې ما فکر کاوه. داسې لکه ما چې د کتاب په پیل کې وویل:«ستاسو تجارت بدلول اړین نه دي، بلکې ستاسو د ځان بدلول اړین دي. زه کولای شم تا ته یو تجارت در وښیم؛ خو د تجارت د پرمختګ لپاره مجبور یې چې پرمختګ وکړې.» هر څوک تجارت در ښودلای شي؛ خو پرمختګ خورا سخت دی.

ته خپله ګټونکی او بایلونکی یې

جان پورته په خپلو خبرو کې دوې کلیمې وکارولې؛ یوه ناکامي او بل تسلیمېدل.

موږ هر یو په خپل ځان کې بریالي او ناکام اړخونه لرو. زه هم همداسې یم. زما په وجود کې هم بریالی اړخ شته او هم ناکام. دا دواړه له یو بل سره سیالي او مقابله کوي. دا چې زیات خلک په ژوند کې نه بریالي کېږي او یوازې ژوند تېروي، یو دلیل یې دا دی چې دوی په خپل ځان کې ناکام اړخ ته وخت ورکړی دی. زه داسې نه کوم. زه په خپل ځان کې پر بریالي اړخ ټینګار کوم چې ما بریالی وښیي.

دا به څنګه درته معلومه شي چې ستاسو ناکام اړخ خبرې کوي؟ لاندې خبرې ټولې د ناکام اړخ دي:«زه یې توان نه لرم» «دا ډېر خطرناک دی» یا «که زه ناکام شوم.»

بریالي خلک خطر مني او ناکام خلک یوازې د دندې او ځان ساتنې په لټه کې وي.

دا حیرانوونکې ده. ناکام خلک د کاري امنیت او ساتنې خبرې کوي؛ خو په هغه دنده او ژوند کې پاتې کېږي چې هېڅ مصئونیت نه لري، یانې هر وخت کېدلای شي دنده له لاسه ورکړي.

ایا هغه دنده مصئونه ده چې په اونۍ کې ۴۰ ساعته کار کوې او اخر دې له دندې لرې کوي؟ او که هغه د ۴۰۱ سپما مصئونه ده چې د ګډې پانګونې صندوقونه بلل کېږي؟

زموږ په ځان کې بریالی او ناکام انسان شته. شتمن او نېستمن انسان شته، هغه څوک چې ورزش کوي او هغه چې تنبلي کوي ټول زموږ په ځان کې دي. دغه جنګ زموږ په وجود کې روان دی. د شبکه یي بازارموندنې له تجارت سره د یو ځای کېدو دلیل هم دا دی چې هغه به ستا په وجود کې د شتمن انسان ملاتړ وکړي چې پر پښو دې ودروي او حساب درباندې وشي. ستا ناکام ملګري غواړي چې ته په کوچ کې پرېوزې، ارام وکړې او په اونۍ کې څلوېښت ساعته کار ته ولاړ شې. دا کار دوی څکه درباندې کوي چې دوی یوې نوې ننګونې ته را ونه بولې. بل لور د شبکه یي بازارموندنې ډله ستا د پرمختګ غوښتونکې ده او ته چې اوس څوک یې، دوی غواړي تر دې لوړ شې. تر خپل مخکینې ژونده نور هم ښه شې، د عا دي انسان پر ځای یو بې ساري، خاص او ځانګړی انسان شې.

دا خبرې کله هم مه کوئ چې:«نه یې شم کولای» «دا کار سخت دی» یا «زه یوازې ګټه غواړم؛ زه سخت کار کول او خطر پر غاړه اخیستل نه غواړم» دغسې خبرې کول اسانه دي؛ خو دا د ناکامو خلکو خبرې دي.

**دوام لري...**

# بیان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




بیان د لوړو زده کړو خصوصي موسسې په ۱۳۹۳ لمریز کال کې په علمي او فرهنګي برخه کې پر فعالیت پیل وکړ. په ۱۳۹۴ لمریز کال کې یې د دوو پوهنځیو (حقوق او اقتصاد) په درلودلو سره د لومړي ځل لپاره محصلین جذب کړل. د لوړو زده کړو دغه موسسه اوسمهال هم یاد دوه پوهنځي لري چې له دواړو پوهنځیو یې دوې دوې دورې محصلین د لېسانس په کچه فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. د بیان د لوړو زده کړو خصوصي موسسې اداري مرستیال عزیزالله الکوزی وایي، چې دواړه فعال پوهنځي یې دوه دوه ډیپارټمنټونه لري چې په اقتصاد پوهنځي کې (مالي مدیریت او د بشري سرچینو مدیرت) او په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې بیا د (د ډیپلوماسۍ علوم او قضا او څارنوالي) ډیپارټمنټونه فعال دي.

د بیان د لوړو زده کړو خصوصي موسسې اداري مرستیال وایي، په مخکنیو کلونو کې یې د ښځینه محصلینو شمېر یو څه کم و، خو په تېرو دوو کلونو کې یې دا شمېر د پام وړ ډېر شوی. ښاغلی الکوزی وایي چې په ټوله کې اوسمهال د ۸۰۰ په شاوخوا کې ښځینه او نارینه محصلین لري. د لوړو زده کړو له دې موسسې څخه تر اوسه پورې دوې دورې محصلین فارغ شوي، چې ډېری یې په مرکز او ولایتونو کې په دولتي او غیر دولتي ادارو کې پر کار بوخت دي.

عزیزالله الکوزی وایي چې د دوی موسسه د زرو نویو محصلینو د جذب وړتیا لري، خو دا چې په ټوله کې د افغانستان د خلکو اقتصادي وضعیت دومره ښه نه دی، نو دغه څه د دوی پر کاروبار هم اغېز کوي. دی وایي، له همدې کبله دوی هر کال یوازې د ۲۰۰ په شاوخوا کې نوي محصلین جذبوي. نوموړی زیاتوي چې که په هېواد کې امنیتي او اقتصادي وضعیت ښه شي، نو د دوی د محصلینو شمېر به هم ور سره زیات شي.

بیان د لوړو زده کړو موسسه د محصلینو لپاره د تخفیف بېلابېلې کټه‌ګورۍ لري. ښاغلی عزیزالله الکوزی وایي، د محصلینو اقتصادي وضعیت ته په کتو دوی ته په کافي اندازه تخفیف ورکوي. دی وایي چې داسې محصلین لري چې په تېرو دوو کلونو کې یې ورته شپېته او ان اویا سلنه تخفیف ورکړی دی. الکوزی وایي، په ټولو خصوصي پوهنتونونو کې د ورځې دوه وخته تدریس کېږي، خو د دې لپاره چې د محصلینو ستونزې یې په پام کې نیولې وي، دوی ورته د ورځې درې وخته تدریس کوي.

بیان د لوړو زده کړو موسسه د محصلینو او استادانو لپاره دوه مجهز کتابتونونه لري چې په یوه کې یې په هارډ او په بل کې یې بیا په سافټ ډول کتابونه موجود دي. الکوزی وایي، په کتابتون کې په څلورو برخو کې د دوو زرو په شاوخوا کې بېلابېل علمي او تخصصي کتابونه لري، چې محصلین یې کولای شي وخت ناوخت له دې کتابتون څخه ګټه واخلي او مطالعه پکې وکړي. د الکوزي په خبره، د کتابتون تر څنګ یې محصلینو ته د انټرنېټ او کمپیوټر لب اسانتیا هم برابره کړې ده. دی وایي، محصلین یې کولای شي په کمپیوټر لب چې په انټرنېټ سمبال دی، په بېلابېلو برخو کې معلومات وپلټي او خپلې ستونزې حل کړي.

د لوړو زده کړو دغه موسسه په کور د ننه له ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو له موسسو سره ښې علمي اړیکې لري او وخت ناوخت له دغو پوهنتونونو سره په اړیکه کې وي، تجربې ورسره شریکوي او له تجربو یې ګټه خلي، خو له هېواده بهر تر اوسه پورې له کوم پوهنتون سره د علمي اړیکو هوکړه نه لري. د لوړو زده کړو د دې موسسې اداري مرستیال وایي چې له ځینو بهرنیو پوهنتونونو څخه ورته غوښتنلیکونه رسېدلي او دوی هم په دې برخه کې هڅې پیل کړې دي، نو کېدای شي د روان کال تر پای پورې ورسره ځینې هوکړې لاسلیک کړي.

په بیان د لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې د ۵۱ تجربه لرونکو استادانو له خوا مخ ته وړل کېږي چې اته یې ښځینه استادانې دي. ښاغلی عزیزالله الکوزی وایي، استادان یې د دوکتورا او ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې لري او د تدریس په برخه کې ښه تجربه لرونکي او د خپل مسلک متخصصین دي. نوموړی وایي چې استادان یې هڅه کوي چې پر کار پوه او مسلکي کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي، څو هم ټولنې او هم خپل ځان او کورنۍ ته ګټور ثابت شي.

عزیزالله الکوزی وایي، لومړۍ دوره محصلین چې په ۱۳۹۷ لمریز کال کې یې فارغ کړي دي او هغه چې خپل مونوګرافونه یې دفاع کړي، ټولو ته یې په وخت د لوړو زده کړو وزارت له لوري تایید شوي اسنادونه سپارلي او هغه کسان چې په ۱۳۹۸ لمریز کال کې فارغ شوي، ځینو ته یې تر اوسه پورې تحصیلي اسنادونه نه دي سپارل شوي. نوموړی وایي چې دوی فارغ شویو محصلینو ته په وخت تحصیلي اسنادونه سپاري، څو محصل وکولای شي له اسنادونو څخه د نورو زده کړو او دندې پیدا کولو لپاره ګټه واخلي. الکوزی زیاتوي چې د نظري زده کړو تر څنګ د محصلینو لپاره وخت ناوخت سمینارونه، ورکشاپونه او نور پروګرامونه هم لري، څو یې د محصلینو وړتیاوې لوړې شي او تجربې تر لاسه کړي. د دې موسسې اداري مرستیال وایي چې په دې برخه کې ځینې نور پروګرامونه هم په نظر کې لري چې دغه پروګرامونه به هم د محصلینو د وړتیا لوړولو په برخه کې ګټور ثابت شي.

د بیان د لوړو زده کړو موسسې اداره وایي، چې د موسسې د پرمختګ او لاړ غوړېدو لپاره ډېر پلانونه لري چې یو په بل پسې به یې عملي کړي. د پوهنځیو زیاتول، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول، د اکاډمیکې ساحې پراخول او دې ته ورته نور مسایل د بیان د لوړو زده کړو موسسې له راتلونکو پلانونو څخه دي. ښاغلی عزیزالله الکوزی وایي، دا چې اوسمهال د لوړو زده کړو وزارت له لوري د نویو پوهنځیو تاسیس ځنډېدلی دی، نو که دویم ځلي اجازه ورکړل شي دوی به هم ځینې نور نوې پوهنځۍ تاسیس کړي.

د دې موسسې اداره وایي چې لوړو زده کړو وزارت په ځانګړې توګه د خصوصي پوهنتونونو ریاست د دې پر ځای چې له ستونزو څخه د وتلو لار ورته روښانه کړي، یوازې نیوکې کوي. دوی وایي چې لوړو زده کړو وزارت باید په هر اړخیزه توګه له خصوصي پوهنتونونو سره د ظرفیتونو په لوړولو کې مرسته وکړي. ښاغلی الکوزی وایي، لوړو زده کړو وزارت د دې پر ځای چې دوی ته د لا ډېر پرمختګ زمینه برابره کړي، د دوی د پرمختګ مخه نیسي، د نویو پوهنځیو، نویو څانګو، ماسټرۍ پروګرام پیلولو او د دوی د نورو پرمختګونو مخه یې نیولې. دی وایي، په نوره نړۍ کې د لوړو زده کړو اړوند اداري له خصوصي پوهنتونونو سره مرسته کوي، څو پر خپلو پښو ودرېږي او له دوی سره څنګ په څنګ د هېواد د ابادۍ لپاره لاس پکار شي، خو دلته نه یوازې دا چې د پرمختګ زمینه نه ورته برابرېږي، بلکې لا یې د پرمختګ مخه نیول کېږي. دوی د لوړو زده کړو وزارت له لوري د څار او کیفیت د تضمین پروګرام ستاینه کوي، خو په څنګ کې یې د هر اړخیزې مرستې په تمه دي. نوموړی وایي، دا چې خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي، نو لازمه مرسته هم باید ورسره وشي.

## اقتصاد

# د افغانستان اوبه او د ګاونډيانو اندېښني

لیکنه: عبدالرشید نایل

**لومړۍ برخه:**

**د اوبو زیاتېدونکې اړتیا او اهمیت**

د اوبو او اورښتونو د کچې کمښت او د اوبو له کبله په نړیواله کچه راټوکېدونکې ستونزې د روانې پېړۍ له پیله د بحث توده موضوع ده. په دې تړاو د نړیوال بانک د پخواني مرستیال، د ۱۹۹۵ ز کال وړاندوینه مشهوره ده، چې وايي، په ۲۰مه پېړۍ کې ډېرې شخړې او جګړې د تېلو په اړه وې، خو د ۲۱مې پېړۍ ډېرې جګړې به پر اوبو وي.

د نړیوال بانک د څېړنو له مخې، اوسمهال د نړۍ ۸۰ هېوادونه د اوبو له کمښت سره مخ دي او ۲.۸ میلیارده خلک په هغو سیمو کې ژوند کوي، چې په لوړه کچه د اوبو د کمښت له فشار سره مخ دي. داسې تمه کېږي چې دا کچه به تر ۲۰۳۰ ز کال پورې۳.۹ میلیاردو (د نړۍ نږدې نیمایي نفوس) ته ورسېږي.

د ملګرو ملتونو د وړاندوینې له مخې، د ۲۱مې پېړۍ تر نیمایي پورې به د ځمکې د اوبو د ضایع کېدو او ککړېدو له کبله ښایي د ټولې نړۍ ۷۰ سلنه وګړي (شاوخوا ۷ میلیارده تنه) د خوړو اوبو له کموالي سره مخ شي. همدا لامل دی، چې ورځ تر بلې د اوبو اړتیا او اهمیت زیاتېږي او افغانستان هم د هغو هېوادونو په کتار کې دی، چې د اوبو له کمښت سره مخ دي. د اوبو کمښت په ځانګړې توګه زموږ پر هېواد په لاندې برخو کې اغېزې ښیندلې او په هېواد کې یې د اوبو اړتیا او اهمیت لا ډېر لوړ کړی دی:

**الف- د ګاونډیو هېوادونو لاسوهنې**

په داسې حال کې چې اقلیمي بدلونونو او د اورښتونو د کچې کمښت په نړیواله کچه ګڼ شمېر سیمې ځپلې دي، د ملګرو ملتونو په ګډون ګڼې نړیوالې اداري او پالیسي جوړوونکي په دې اند دي، چې په نړۍ کې به راتلونکې ډېرې شخړې پر اوبو وي او هر څومره چې د اوبو کچه کمېږي، همدومره یې له کبله شخړې او کشمکشونه هم زیاتېږي. افغانستان هم له یوې خوا د وچکالۍ ځپلو هېوادونو په کتار کې راځي او له بلې خوا عملا له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو پر سر اختلافات لري. همدا لامل دی، چې په افغانستان کې د ایران او پاکستان د لاسوهنو یو لامل ګڼدې اوبه بلل کېږي او دغه هېوادونه هڅه کوي، چې افغانستان د دغو اوبو د مدیریت مجال پیدا نه کړي. په دې تړاو ایران تر جدي شکونو او نیوکو لاندې دی، چې د افغانستان په خاوره کې د بندونو د جوړولو پر پروژو مخفیانه بریدونه کوي او د دغو پروژو د ځنډولو هڅې کوي. کمال خان، بخش‌آباد او سلما هغه بندونه دي، چې د پروژو د تخریب او کار درولو په موخه یې پر ایران د لاسوهنو او مخفیانه بریدونو له کبله نیوکې شته دي. دغه راز د ۲۰۱۸ ز کال په مې میاشت کې د فراه ولایت پر مرکز د دولت د وسله‌والو مخالفینو له برید وروسته د افغانستان د دفاع وزیر دا جګړه د اوبو جګړه وبلله. په همدې توګه پر پاکستان هم ورته نیوکې او تورونه شته او په ځانګړې توګه تر کابل سیند لاندې سیمو کې د جوړېدونکو بندونو (د بېلګې په توګه پر کونړ سیند جوړېدونکی بند) پر پروژو پاکستان پر مخفیانه تخریبي بریدونو او یا په دغسې بریدونو کې پر لاس لرلو تورن دی. اصلا ایران او پاکستان په دې اند دي، چې په افغانستان کې د بندونو له جوړېدو سره د دوی ګټې له ګواښ سره مخ کېږي؛ ځکه په تېرو کلونو کې په افغانستان کې د اوږدو بې‌ثباتیو له کبله د افغانستان اوبه دغو هېوادونو ته په وړیا ډول ورغلې دي.

**ب- کرنیز سکتور او اقتصادي وضعیت**

د کرنې سکتور نبغ په نبغه د اوبو له وضعیت سره تړلی دی، چې ۹۵ سلنه اوبه پکې مصرفېږي او اوسمهال دا سکتور د ټول هېواد په کچه د اوبو له کمښت سره مخ دی. په ۱۹۷۰ ز کال کې په افغانستان کې ۳.۳ میلیون هکتاره ځمکه خړوبېدله؛ خو دا کچه په ۲۰۰۸ ز کال کې ۱.۸ میلیونه هکتاره کرنیزې ځمکې ته راټیټه شوې وه. له دې جملې ۱۰ سلنه یې له عصري لارو چارو په ګټې اخیستنې سره خړوبېږي او د ژورو څاګانو په څېر په دودیزو تګلارو تکیه کېږي، چې د اوبو کچې په کموالي کې رول لري. له اوبو څخه د اغېزناکې ګټې اخیستنې په موخه د اوبو د مدیریت او پراختیا په سیستمونو او میکانیزمونو کې د پانګونې نشتون له هغو ننګونو څخه ده، چې په دې برخه کې د ستونزو د زیاتېدو لامل شوې ده.

د کرنې سکتور د افغانانو د اقتصاد ۷۸ سلنه برخه جوړوي او شاوخوا ۸٤ سلنه اوبه هم د ځمکو د خړوبولو لپاره کارول کېږي، چې په دې برخه کې پر بنسټیزو منابعو، لکه کاریزونو تمرکز د پام وړ پایله لرلې ده. د اوبو او انرژۍ وزارت د معلوماتو له مخې، په هېواد کې د اوبو لګونې سرچینې له سیندونو ۸٤,٦ سلنه، له ابشارونو ۷,۹ سلنه او له کاریزونو ۷,۵ سلنه دي. دا وېشنه د دې ښودنه کوي، چې له بده مرغه په افغانستان کې د کاریزونو سیستم ته ډېره پاملرنه نه ده شوې. په داسې حال کې چې کاریزونه نه یوازې دا چې د اوبو د زېرمه کولو بلکې د نورو اغېزناکو موخو لپاره هم کارول کېږي.

د افغانستان ۷۷ سلنه نفوس په کلیو او بانډو کې ژوند کوي، چې کرنه او مالداري یې د ورځنې ژوند د لګښتونو او اقتصاد عمده برخه جوړوي. د افغانستان د ټول نفوس ۵۹ سلنه وګړي په دې برخه کې مشغول دي او له همدې کبله د کرنې سکتور ونډه په ناخالصو داخلي تولیداتو کې هم ۳۰ سلنه ده. په دې توګه اوبه د دې سیمې لپاره په اقتصادي وده، سیاسي ثبات او غذايي امنیت کې خورا مهم رول لري.

د دې ترڅنګ، افغانستان له ګاونډیو هېوادونو څخه د برېښنا واردولو ته اړ دی او شاوخوا ۸۰ سلنه برېښنا له ایران، ترکمنستان، تاجکستان او ازبکستان څخه واردوي او هر کال ملیونونه ډالره پرې لګوي. افغانستان دا مهال د ۲٤۰ مېګاواټه برېښنا د تولید وړتیا لري، چې له اوبو څخه د ۲۳ زره میګاواټه برېښنا د تولید د وړتیا ایله یو سلنه جوړوي او دا وضعیت د صنعت پر سکتور او اقتصادي وده نبغ په نبغه اغېزه لري. ځکه نو د اوبو د تنظیم لپاره د کافي زېربناوو نشتون د هېواد د اقتصادي او بشري ودې پر وړتیا هم ناوړه اغېزې ښندلې دي. په داسې حال کې چې د اسیا د پرمختیایي بانک د شمېرو له مخې نژدې ٤۰ سلنه افغانان عملا د بېوزلۍ تر کچې لاندې ژوند کوي او د نړیوال بانک شمېرې ښیي، چې د بې‌کارۍ کچه هم خورا لوړه ده.

**ج- د څښاک پاکو اوبو ته نه لاسرسی**

دا مهال یوه ستره ننګونه پاکو اوبو ته نه لاسرسی دی. په افغانستان کې تر ځمکې لاندې اوبو سرچینې په لوړه کچه تر فشار لاندې دي او تر نیمایي زیاتې اوبه د پمپونو په مرسته را ایستل کېږي، چې له دغو سرچینو تر ټولو ډېره استفاده په کابل ښار کې ده. په وروستیو کلونو کې د کډوالو زیاتېدونکی شمېر او د نفوس چټکه پراختیا د ځمکې لاندې اوبو د کموالي او په پراخه کچه د اوبو د څاګانو د وچېدو لامل شوې ده. د یوې ازموینې له مخې په ٤۰ کلونو (۱۹٦۵-۲۰۰۵ز کلونو) کې د دې سیمې اوبه ٦ تر ۷ متره پورې ښکته تللې وې. د اوبو د کچې د ټیټوالي ترڅنګ د اوبو د کیفیت په تړاو هم جدي اندېښنې شته دي او په دغه ښار کې تر ځمکې لاندې اوبه په پراخه کچه ککړې شوې دي. تر ۸٦ سلنه زیات خلک یوازې یو ساده د ککړو اوبو څاه لري، چې په معیاري ډول نه پاکېږي او له کبله یې یو شمېر مرکبات لکه نایترت، سلفېټ او ځینې باکټریاوې لړ ژورو اوبو ته رسېږي. د ځینو نړیوالو ادارو د راپورونو له مخې، د پلازمېنې په ګډون د ټول هېواد په کچه د څښاک پاکې اوبه له یوې خوا په پراخه کچه کمې شوې دي او له بلې خوا په معیاري توګه نه کارېږي او د څښاک د پاکو اوبو ستونزې د روغتیا پر سکتور هم خورا منفي سیوري غوړولی دی. ځینې څېړنې ښیي، چې که د پلازمېنې اوبو ته پام ونه شي، یوه لسیزه وروسته به په کابل کې د څښاک پاکې اوبه نه موندل کېږي.

**دوام لري...**

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۵ |
| € | ۸٤,۵۰ |
| Rp. | ٤٦٤ |
| ₹ | ۹۸۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹۳,٦۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

## اوچا: د روان کال په لومړیو څلورو میاشتو کې ۸٦زره افغانان د جګړو له امله بې ځایه شوي

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو اداره یا اوچا وايي چې د روان زېږدیز کال په لومړیو څلورو میاشتو کې په افغانستان کې ۸٦زره افغانان د جګړو له امله بې کوره شوي دي.

د یادې ادارې له خوا خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د جګړو او طبیعي پېښو له امله د تېرو کلونو په څېر سږ کال هم د افغانانو د زیانمنېدو لړۍ روانه ده.

سرچینې زیاته کړې چې د روان زېږدیز کال په لومړیو څلورو میاشتو کې تر اوسه په ټول افغانستان کې ۸٦ زره افغانان بېځایه او بې کوره شوي دي.

د سرچینې په خبره، په دې کورنیو کې ډېرې یې د نا امنیو او غربت له امله نه دې توانېدلې بېرته خپلو مېنو ته ستنې شي.

د اوچا ادارې ویلي چې په ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ زکلونو کې هم په افغانستان کې ۲۴۵زره افغانان د نا امنیو او وچکالۍ له امله بېځایه شوي وو چې له دې څخه ۱۱۱زره یې تر اوسه بېرته خپلو سیمو ته نه دي ستانه شوي.

د سرچینې د معلوماتو له مخې، سږ کال نږدې ۲۸۸زره افغانان له ایران او پاکستانه بېرته خپل هېواد ته ستانه شوي چې له دې ډلې‌څخه ۲۹٦زره یې له ایران څخه او ۱۷۰۰ نور له پاکستانه ستانه شوي دي.

د ملګرو ملتونو دغې ادارې ویلي چې سږ کال تر اوسه شپږ زره افغانان له ترکیې شړل شوي او یو شمېر نور افغانان له اروپایي هېوادونو افغانستان ته لېږدول شوي دي.

د سرچینې په وینا، په افغانستان کې یو میلیون کسان اوس هم بېړنیو مرستو ته اړتیا لري.

په ورته وخت کې د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت وايي، چې اوسمهال شاوخوا شپږ نیم میلیونه افغان کډوال او پناه غوښتونکي په بهرنیو هېوادونو کې د کډوالۍ ژوند تېروي.

د دغه وزارت مرستیال ویاند محمد رضا باهر امریکا غږ ته ویلي، چې شاوخوا پنځه میلیونه افغان کډوال په ایران او پاکستان کې اوسېږي.

هغه زیاته کړې چې شاخوا پنځه سوه زره افغانان په اروپا او پنځه سوه زره نور په امریکا او استرالیا کې او همداشان په همدې شمېر نور په عربي هېوادونو کې ژوند کوي.

باهر اروپایي هېوادونو ته په ناقانونه ډول د افغانانو کډوالۍ د بهیر په هکله ویلي، چې په تېرو دریو کلنو کې اروپایي هېوادونو ته د افغانانو د تللو بهیر ورو شوی دی، خو هغه وویل، چې په دې برخه کې دقیقې شمېرې نه لري.

## ناټو: په افغانستان کې د تاوتریخوالي زیاتوالی سیاسي ستونزې رامنځته کولی شي

د افغانستان لپاره د ناټو ملکي استازي ستېفانو پونتیکورو په وسله والو طالبانو غږ کړی چې د تاوتریخوالي له زیاتولو لاس واخلي.

پونتیکورو له امریکا غږ سره په ځانګړې مرکې کې ویلي چې پر افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو او ولسي خلکو باندې د طالبانو بریدونه د منلو نه دي.

نوموړي زیاته کړې: «طالبانو ژمنه کړې چې د متحدینو پر وړاندې او په ګڼ مېشتو ښاري مرکزونو کې به تاوتریخوالی صفر کوي او دا کار یې کړی، خو د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو او ملکي خلکو پر وړاندې تاوتریخوالی د منلو نه دی، دا کار سیاسي ستونزې رامنځ ته کوي، د بندیانو آزادول له ستونزو سره مخ کوي او د بین الافغاني مذاکراتو لپاره چاپېریال ګډوډوي. موږ پوهېږو چې طالبان باور لري د تاوتریخوالي زیاتول به په مذاکراتو کې په تاکتیکي توګه د هغوی موقف قوي کړي چې دا یو غلط برداشت دی.» نوموړی داسې مهال دا خبره کوي چې افغان حکومت او طالبان تر بل هر وخت اوس بین الافغاني مذاکراتو ته نږدې شوي دي. که څه هم چې د بین الافغاني مذاکراتو لپاره ځای او نېټه لا اعلان شوې نه ده، خو د ناټو ملکي استازی وايي چې د بین الافغاني مذاکراتو په خونه کې به هېڅ بهرنی نه وي او یوازې افغانان به له افغانانو سره مخامخ خبرې کوي چې خپلې ستونزې حل کړي.

پونتیکورو ویلي چې په بین الافغاني مذاکراتو کې د ناټو لویه غوښتنه دا ده چې په افغانستان کې د تېرو شلو کلونو لاسته راوړنې له منځه ولاړې نشي. هغه ویلي: «زموږ لومړیتوب دا دی چې زموږ په شتون کې د تیرو شلو کلونو لاسته راوړنې وساتل شي، خو دا باید پخپله د افغانانو، سیاستوالو، ټولنو او عادي افغانانو لخوا وساتل شي. موږ غواړو چې لاسته راوړنې خوندي شي، خو مداخله نه کوو. موږ به وګورو چې پر څه پرېکړه کېږي. افغانستان سره د ناټو ژمنه ټینګه ده.»

د ناټو ملکي استازي دغه راز هیله ښودلې چې امریکا او طالبان به د تړون شرطونو ته ژمن پاتې شي او په دې سره به موږ ټول یوه باثباته افغانستان ته نږدې شوي یو. هغه زیاته کړې چې له افغانستان سره به د ناټو مرستې تر هغه پورې وي چې افغانان ورته ضرورت لري.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایګل چاپ
WAYGAL PRINTING CO
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ !
STAY HOME
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

یکشنبه د ۱۳۹۹ د چنګاښ لومړۍ | د ۲۰۲۰ د جون ۲۱مه | ۵۵۳مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳٥ | ۲۹ |
| ۱۳ | ١٤ | ١٧ | ١٧ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵٦ | لمر ختل ۰٤:٤١ | ماسپښین ١١:٥٦ | مازیګر ۰۳:٤٣ | ماښام ۰٧:۰۲ | ماخوستن ۰۸:٥٦


## نړۍ




## راپوررونه: امریکا او روسیه روانه اونۍ د اټومي وسلو د کنټرول پر سر خبرې کوي

د راپوررونو له مخې، امریکا او روسیه روانه اونۍ په ویانا کې د اټومي وسلو د کنټرول پر سر خبرې کوي.
د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت د یوې خبرپاڼې پر بنسټ، د اټومي وسلو د کنټرول لپاره د امریکا ځانګړی استازی مارشال بیلینګسلي به د روسیې د بهرنیو چارو وزارت له مرستیال سرګي ریابکوف سره سبا او بل سبا خبرې وکړي.
د راپوررونو له مخې، په راتلونکي کې د اټومي وسلو کنټرول به د امریکا او روسیې د دغو لوړپوړو ډیپلوماټانو د بحث مهمه او اساسي موضوع وي.
په ورته وخت کې د امریکا متحده ایالتونو ویلي چې چین یې هم دغو خبرو اترو ته رابللی دی، خو تر اوسه پورې چین په دې خبرو اترو کې ګډون رد کړی دی.
تمه کېږي چې د ستراتیژیکو وسلو د کمولو تړون به د امریکا او روسیې ترمنځ د نوي پیل د تړون ځای ونیسي چې په ۲۰۱۰ میلادي کال کې لاسلیک شوی و.
د یادونې ده چې د لس کلونو دا پخوانی تړون چې دواړه هېوادونه د ۱۵۵۰ ز کال د اټومي سرګلولو په لړلو پورې محدودوي، د راتلونکي فبرورۍ په میاشت کې پای ته رسېږي.

## په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې نږدې نهه میلیونو ته ورسېدې



د راپوررونو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۸.۸۴ میلیونو ته ورسېدې. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ۴۶۴ زره او ۵۹۰ تنه مړه شوي او ۴.۷۰ نور بېرته رغېدلي دي.
د تازه شمېرو پر اساس امریکا د دغه ویروس د مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په یاد هېواد کې تر دې دمه د کرونا ویروس مثبتې پېښې نږدې دوو نیمو میلیونو ته رسېدلي او ۱۲۱ زره او ۷۰۰ نورو امریکایان د دغه ویروس له کبله مړه شوي دي.
له امریکا وروسته برازیل د یو میلیون او ۴۳ زره او ۱٦۸ مثبتو پېښو او ۴۹ زره او ۱۵۰ مړو په درلودو سره دویم، روسیه د ۵۷٦ زره او ۹۵۲ مثبتو پېښو له کبله درېیم، هند د ۴۰۷ زره او ٦۸۹ مثبتو پېښو له اړخه څلورم او برېټانیا د ۳۰۳ زره او ۱۱۰ مثبتو پېښو په درلودو پنځم، هغه هېوادونه دي چې د یاد ویروس تر ټولو ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.
دغه راز، اسپانیا، پیرو، ایټالیا، چیلي او ایران په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د یاد ویروس له کبله ډېر ځپل شوي دي.


## داکتران مراکز مبارزه با کرونا: با گذشت چند ماه هنوز هم حقوق و امتیازات ما پرداخت نشده است



اگر چه اخیراً برای مبارزه با ویروس کرونا کمک‌های بین‌المللی به افغانستان سرازیر شده، اما معاشات کارمندان مراکز مبارزه با این ویروس در این کشور ماه‌ها است که پرداخته نشده است. شماری از آن‌ها به رادیو آزادی گفته‌اند که دو تا سه ماه حقوق خود را نگرفته‌اند و با مشکلات جدی مالی مواجه شده‌اند.
داکتر نورالله، سرطبیب شفاخانه ولایتی ارزگان گفته است: «دو ماه می‌شود که من و داکترانی که در این شفاخانه کار می کنند، معاشات مان را اخذ نکرده‌ایم. ما با مشکلات جدی اقتصادی روبه‌رو هستیم.»
داکتر نورالله کمبود تجهیزات صحی در این شفاخانه را از مشکلات دیگری خواند که مبارزه با ویروس کرونا را با چالش مواجه کرده است. به گفته او، این موضوع بارها با مسئولان در میان گذاشته شده، ولی هنوز به آن رسیدگی نشده است.
داکتر عبدالغفار سعید مسئول بخش ولایتی وزارت صحت عامه در بخش مبارزه با ویروس کرونا در ولایت پکتیا است. او نیز می‌گوید تا کنون امتیازاتی را که وزارت صحت در این زمینه برای داکتران اختصاص داده، به داکتران نپرداخته است. رسول گل ثمر رئیس صحت عامه ولایت لوگر نیز تأیید می کند که تا هنوز معاشات کارکنان بخش مبارزه با ویروس کرونا در این ولایت برای شان پرداخت نشده است. این در حالی است کارکنانی که برای تشخیص و درمان کووید-۱۹ در شماری از ولایت‌ها استخدام شده‌اند، در سه ماه گذشته حقوق خود را نگرفته‌اند. اما معصومه جعفری، معاون سخنگوی وزارت صحت عامه گفت: «در بخش معاشات باید بگویم که برخی از کارمندان بخاطری معاشات‌شان را دریافت نکرده‌اند که قراردادهای‌شان را امضا نکرده‌اند و یا هم حساب بانکی نداشته اند. پرداخت معاشات از سوی وزارت در جریان است».

## ژوند

## بادام که تازه وي یا وچ، ګټور دی



بادام نه یوازې د مغز حجرو ته ښه دي، بلکې ډېرې نورې روغتیایي ګټې هم لري. طبیعي او داسې بادام چې مالګه ورسره نه وي ګډه شوې، ډېر غوره غذایي مواد دي چې ډېرې روغتیایي ګټې لري. بادام له منرالونو ډک دي او د وچو مېوو تر ټولو غوره ډول بلل شوی دی. د ورځې یو موټی بادام ستاسو د زړه سلامتي یقیني کوي، د زیات وزن مخه نیسي او د شکرې او الزایمر په څېر مو له مزمنو ناروغیو ساتي.
د ورځې د څو بادامو خوړل ستاسو په ورځنې غذایي رژیم کې ځینې حیاتي مغذي مواد ور زیاتولی شي. بادام د ویټامین E، کلسیم، مګنیزیم او پوتاشیم له پلوه بډای دي. پر دې سربېره، بادام د پام وړ پروټین او فایبر هم لري او په طبیعي توګه یې خوړه کمه ده. په شلو بادامو کې له ۱۲۰- ۱۳۰ پورې کالوري موجوده ده.

## راتلونکې ته هیله من اوسئ


من یو، کارونه مو سم پر مخ روان دي او ډاډه یو چې خپلو موخه ته به رسېږو.

هره ګړۍ د هغه څه په اړه چې غواړې تر لاسه یې کړې، فکر او خبرې وکړئ. هیله منو کسان ته نړۍ له فرصتونو ډکه ښکاري او تل په دې اړه فکر کوي چې څنګه وکولی شي خپلو هیلو ته ځان ورسوي. هغه څېړنه چې په ۲۰۱۳ ز کال کې په ۵۰۰ کوچنیو مخ پر ودې شرکتونو باندې شوې ده او پایلې یې په (درامد) مجله کې خپرې شوې، داسې ویل شوې چې د دغو شرکتونو مدیران په بې ساري ډول راتلونکې ته هیله من ښکارېدل. د دوی دغه هیله مندي د دې لامل شوې وه، چې کارونه یې نور هم ښه پر مخ ولاړ شي او نوې انګېزې پیدا کړي. دوی د ځینو پوښتنو په ځواب کې ویلي وو چې موږ خپلې راتلونکې ته هیله

ماستر ډېبټ کارټ
د عزیزي بانک ماسټر ډېبټ کارټ له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.
1515 www.azizibank.af
عزیزي بانک
Azizi Bank